**د افغانستان په اړه د امنیت د شورا مطبوعاتي بیانیه**

د امنیت د شورا لاندنی مطبوعاتي بیانیه نن ورځ د شورا د رئیسي سوسان رایس(متحده ایالات) له خوا خپره شوه:

د امنیت د شورا غړو هغه د معلوماتو لنډیز چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړی استازی ستفین دي مستورا له خوا وړاندې شول، واوریدل، د افغانستان د حالاتو په اړه یې ارزونه چې په کې وروستنی ټاکنې هم شاملې وې ودرلودله او د ځانګړي استازې د هلو ځلو څخه یې بشپړ ملاتړ اعلان کړ.

د امنیت د شورا غړو د ولسي جرګې لپاره د سپتمبر د ۱۸ نېټې د ټاکنو د پایلو د اعلان هر کلي وکړ چې د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا یې صورت وموندلو. د امنیت د شورا غړو په دې ټنیګار وکړ چې دغه انتخابات چې د سختو امنیتي شرایطو د لاندې د بشپړ افغان مشرتابه د لاندې سرته ورسیدل د افغانستان په مهمه سیاسي پروسه کې یو مهم پړاو شمیرل کیږي.

د امنیت د شورا غړي دې ته سترګې په لار دي چې ټولې افغاني موسسې د خپل صلاحیت په څرګندو مشخص شوو ډګرونو کې د اړوندو قوانینو او د افغانستان د اساسي قانون سره سم فعالیتونو ته دوام ورکړي.

د امنیت د شورا غړو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوی (یوناما) چې د ځانګړي استازي دي مستورا له خوا یې مشري کیږي او د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) د هغه ملاتړ ستاینه کوي چې د ټاکنو په بهیر کې یې ترسره کړې ده.

د شورا غړو د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د هغې پرلپسې ژمنې هرکلی وکړ چې د افغانستان د خلکو او دولت سره یې د سولې ، امنیت او ټیکاو د راوستلو د ملاتړ په لار کې لري او په افغانستان کې یې د نړیوالو ملکي هلو ځلو د همغږی لپاره یې د یوناما د مشرتابه پر نقش ټینګار وکړ.

* *** *